Deputy PM for Economic Affairs Office
د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت

# د افغانستان اقتصادي پرمختګ

## (خبرپاڼه)

دویم کال - ۱۰ مه ګڼه | پرله‌پسې ۲۴مه ګڼه

نېټه: ۱۴۰۴/۳/۱۵



په افغانستان کې هره اوونۍ په بېلابېلو سکتورونو کې مهم اقتصادي فعالیتونه او پرمختګونه رامنځته کېږي. د افغانستان اقتصادي پرمختګ (خبرپاڼه) همدغو مهمو او وروستیو اقتصادي فعالیتونو او پرمختګونو ته پوښښ ورکوي.

### په دې ګڼه کې لولئ:

افغانستان د نوې کېدونکې انرژۍ په لور چټک ګامونه اخلي

# افغانستان د نوې کېدونکې انرژۍ په لور چټک ګامونه اخلي



برېښنا د يو هېواد د اقتصادي ودې له پاره ډېره اړينه ده. که برېښنا نه وي، نو صنعتي فعالیتونه به کم رنګه او کاري فرصتونه به ډېر کم وي. افغانستان هم له هغو هېوادونو څخه دی چې برېښنا په کې کمه او د هېوادوالو د اړتياوو پوره کولو او اقتصادي فعالیتونو له پاره هغومره چې لازمه ده کافي برېښنا نه لري.

په هېواد کې د برېښنا د تولید ډېرې سرچینې شته. اوبه د برېښنا د تولید مهمه سرچینه ده. دغه راز، لمر او باد هم د برېښنا د تولید مهمې سرچينې دي. افغانستان له خپلو سرچینو د برېښنا د تولید ډېر ظرفیت لري، خو په تیر کې د هېواد له خپلو سرچينو څخه د برېښنا د تولید له پاره کافي استفاده و نه شوه او افغانستان د برېښنا په برخه کې په بهرنيو هېوادونو متکي پاتې شو.

نړۍ د لږ لګښت او په کم وخت کې د پروژو د عملي کېدو له امله اوس تر ډېره د اوبو برېښنا تولید پر ځای نوې کېدونکې انرژۍ تولید ته مخه کړې ده. د افغانستان اسلامي امارت هم د دې له پاره چې په هېواد کې برېښنا ته تقاضا ډېره ده، نو له نوې کېدونکې انرژۍ څخه يې د برېښنا تولید ته ډېره توجه کړې ده.

د افغانستان برېښنا شرکت مسوولينو ويلي، د خپل پنځه کلن پلان پر بنسټ به د هېواد په کچه د برېښنا له کورنيو سرچينو څخه ۱۰۰۰ مېګاواټه برېښنا تولید کړي. د همدې موخې د تحقق له پاره يې د هېواد په بېلابېلو ولايتونو کې له لمر او باد څخه د برېښنا د تولید پروژې پيل کړې دي.

تېره اوونۍ لغمان ولايت د لس مېګاواټه لمريزې برېښنا پروژې د پيل کوربه و. د پرانيستې مراسمو کې د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال، د افغانستان برېښنا شرکت رييس، د لغمان والي او نورو مسوولينو حضور درلود.

د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په خپله وينا کې وويل، اسلامي امارت د برېښنا سکتور کې ځانبسياينې ته د رسېدو په موخه د دې پروژې په څېر مهم ګامونه اخيستي دي، چې نه يوازې د برېښنا د تولید، بلکې د ملي اقتصاد، کورنۍ او بهرنۍ پانګونې د جلب او جذب، د کاري فرصتونو د ايجاد او هېوادوالو ته د ښو خدماتو وړاندې کولو په برخه کې مهم ګام دی.

دغه راز، د روانې اوونۍ په پيل کې په هرات کې د برېښنا د تولید دوې پروژې پرانيستل شوې. يوه پروژه د بادي برېښنا ۴۳.۲ مېګاواټه او بله د لمريزې برېښنا پنځه مېګاواټه پروژه چې ټول پرې شاوخوا ۶۸ میلیون ډالر لګښت کېږي. د پرانيستې مراسمو کې د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال، د اقتصاد سرپرست وزير، د افغانستان برېښنا شرکت رييس، د هرات والي او يو شمېر نورو مسوولينو حضور درلود.

د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په خپله وينا کې وويل، افغانستان له اوږدې مودې په وارداتي برېښنا متکي دی او د هېواد د ملي بوديجې يوه لويه برخه هر کال د وارداتي برېښنا د پېرلو له پاره لګول کېږي.

اسلامي امارت باور لري چې له کورنيو سرچينو څخه د برېښنا تولید به له يوې خوا په هېواد کې اقتصادي پرمختګ ته لاره هواره کړي او له بلې خوا به په وارداتي برېښنا د افغانستان تکيه راکمه کړي.

موده وړاندې په هېواد کې د برېښنا د تولید کچې زياتېدو په موخه د اوو مهمو پروژو قراردادونه لاسليک شول چې موخه يې په هېواد کې د ۲۲۸ مېګاواټه برېښنا تولید دی. په لغمان کې د لس مېګاواټه او هرات کې د شاوخوا ۴۸ مېګاواټه برېښنا تولید پروژې يې هم برخې دي.

له نوې کېدونکې انرژۍ څخه استفاده له اقتصادي او اقليمي اړخه مهمه ده. اوسمهال چې په نړۍ کې اقليمي ستونزې ورځ تر بلې زياتېږي، افغانستان کولی شي چې د نوې کېدونکې انرژۍ په کارولو سره اقليمي ستونزې راکمې او پاکه انرژي تولید کړي.